مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر ش میره کی

۲۰۲۶/۱۰/۰۹

# د انسان له جوړښت څخه ځان خبر کړي:

ګرانو دوستانو ! د انسان د بدن له جوړښت څخه خبر شي څه دا ټول د پاک څښتن تعالی له قدرتو څخه دي اوانس ان باید تل د الله ج د قدر څخه اداینه وکړي نو دا لاندې په زړه پورې معلومات هم ولولي .

د انسان له جوړښت څخه یو څو مثالونه

ـــ د انسان په هډوکو کې ۲۲ فیصده اوبه شتون لري .
ـــ انسان د خولو په وسیله ۸۵ فیصده تودوخه بهر کوي .
ـــ یو پنځه کلن ماشوم ۲۰ داني غاښونه لري .
ـــ د انسان په دماغو کې یو ملیارد و شل لکه عصبي حجرې شتون لري .
ـــ انساني خوله د بدن یو فیصد مالګه بهر کوي .
ـــ د انسان د بروډي ( پښتورګي ) وزن ۱۲۸ ګرامه دی .
ـــ د وینې سره کرویات ۱۲۰ ورځې عمر لري .
ـــ حجره ( Cell ) د ژوندیو موجوداتو ساختماني، وظیفوي، تکثري، تکاملي او ارثي واحد دی .
ـــ حجرات یوه اونۍ عمر لري .
ـــ وینه د بدن د تودوخې درجه برقراره ساتي .
- وینه ټول بدن ته اکسجن رسوي.
- وینه ټول بدن ته انرژي انتقالوي .
ـــ د عمر په تېرېدو د دماغو فعالیت کمېږي .
ـــ د نورو غړو په پرتله، زړه لس چنده ډېره انرژي مصرفوي .
ـــ د انسان د زړه شکل د پان پاڼي په شان دی .
ـــ د ۴۵ کلونو په موده کې زړه د ۳ لکه ټنه په شاوخوا کې وینه پمپ کوي .
ـــ د یوه عادي انسان د سر او بدن د وېښتان شمېر اته لکو ته رسېږي .
ـــ که چېرې د انسان له بدن څخه ۵۰ سلنه وینه بهر شي، نو انسان له مرګ سره مخامخ کېږي .
ـــ د ګاهن په نامه یوه ساینسپوه ویلي، چې د انسان د هډوکو ډېره برخه له فاسفورس څخه جوړه شوې ده .
ـــ په وینه کې دوه ډوله انټي جن پیدا شوی دی، چې یو یې A او بل یې B دی .
ـــ په ۱۸۷۰ زیږدیز کال کې د انسان او حیوان د وینې ترمنځ توپیر معلوم شو .
ـــ په ویټامینونو کې تر ټولو لومړی سي (C) ویټامین وموندل شو .
ـــ ویټامین اې (A)

په سبزیجاتو کې لکه : رومي بادنجان، ګازرې او په حیواني محصولاتو کې لکه د چرګې په هګۍ اوشیدو کې ډېر پیدا کېږي .

ـــ د لمر په رڼا کې د انسان پوستکی د دې ( D ) ویټامین جوړوي .
ـــ د هډوکو په غښتلتیا او کلکوالي کې د دې ویټامین ډېر اړین رول لري .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ـــ د (B1) ویټامین د کمښت له امله د بیري بیري په نامه ناروغی رامنځته کېږي .
ـــ ویټامین (B) په اوبو کې او ویټامین (A) په غوړو کې حل کېږي .
ـــ په سړو هېوادونو کې خلک د ویټامین (D) له کمښت سره مخامخ دي .
ـــ ویټامینونه په خوړو کې نه شمېرل کېږي .
ـــ یو انسان د خپل فعالیت له پاره ۳۴۰۰ کالوري ته اړتیا لري .

نوربیا





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ